سلام خان ۲۰۱۲/۰۲/۲۴

# د ستراتيژيک تړون تر شاه لويي لوبی روانی دي



د امريکا سره دستراتيژيک تړون پر سر له څه نا څه يوه کال راهيسي کار روان دئ. د تړون له مخي به امريکا په افغانستان کې له ۲۰۱۴ کال وروسته پوځي اډې ولري. ويل کيږي چې امريکا غواړي له دغه کال وروسته په افغانستان کې شاوخوو ۲۰۰۰۰ سرتيري وساتي. د ستراتيژيک تړون له مخي به په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو شتون قانوني شي او د هغوی د نظامی اډو ځايونه به مشخص شي،د دغه تړون لاسليکول افغانانو ته دا ډاډ ورکوي چې متحده ايالات به هغوی له ۲۰۱۴ کال وروسته هم يوازې پرې نه ږدي. په پلان کې ده چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به د افغانستان ټولې امنيتي چارې افغانانو ته وسپارل شي او له دغه هيواد څخه به ټول بهرني جنگي ځواکونه خپلو هيوادونو ته ستانه شي، د افغانستان او امريکا تر منځ د ستراتيژيک تړون په لاسليکولو کې دوه عمده موضوعگاني دي چې دواړه خواوې پرې لا تراوسه پورې يوې موافقي ته نه دي رسيدلي. لومړۍ موضوع په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو له خوا د زندانونو درلودل او دويمه موضوع د شپې له خوا د عملياتو ترسره کول دي،افغان ولسمشر غوښتي دي چې په دې تړون کې د ټولو زندانونو کنترول افغانانو ته وليږدول شي او د بهرنيو ځواکونو له خوا د شپې عملياتو ته د پای ټکی کيښودل شی،د افغان ولسمشر وياند ايمل فيضي، وايي چې افغانستان به له امريکا سره تر هغې پورې د اوږد مهالو همکاريو ستراتيژيک تړون لاسليک نه کړي چې شرطونه ئې نه وي منل شوي،ايمل فيضي په دی ورستيو کی له المان غږ راديو سره په يوه ځانگړې مرکه کې ويلی دی چې که څه هم امريکا او افغانستان دواړه غواړي چې د شيکاگو له غونډې مخکې د افغانستان او امريکا تر منځ ستراتيژيک سند لاسليک شي خو د هغه په خبره تر هغې پورې چې په دغه سند کې د افغانستان شرطونه په پام کې نه وي نيول شوي افغانستان به دغه سند لاسليک نه کړي.

خو به دی وروستيو وختونو کې د افغانستان او امريکا تر منځ د ستراتيژيک سند په اړه خصوصا وافغانستان ته دېنځو امريکايي سناتورانو له سفره وروسته دځينو پر مختگونو تبلغات اوريدل کيږي،افغان او امريکايي چارواکي وايي چې افغانستان او امريکا غواړي چې د شپې له خوا پر عملياتو او افغانانو ته زندانونو د مسئوليت پر ليږدولو په لنډ مهاله توگه له ستراتيژيک سند څخه جلا خبرې وکړي، يو افغان چارواکي ويلي دي چې افغانستان او امريکا پريکړه کړې ده چې د زندانونو د انتقال او د شپې له خوا د پوځي عمليات له ستراتيژيک تړون څخه په جلا ډول تر خبرو لاندې ونيسي. په همدې حال کې يوه امريکايي چارواکي هم ويلي دي چې که څه هم د امريکا د دفاع وزير ليون پنيتا، غواړي چې ټولې موضوعگانو په يوه سند کې راولې خو بيا هم پريکړه شوې ده چې د زندانونو د ليږدولو او د شپې د عملياتو موضوعگاني له ستراتيژيک سند څخه جلا د يوه بل سند په ترڅ کې تر بحث لاندې ونيولې شي،دغو دواړو چارواکو د نوم د نه اخيستلو په شرط خبرې کړي دي. که دغه دوه شخړييزه موضوعگاني له ستراتيژيک سند څخه بيلې شي نو کيدای شي چې د امريکا او افغانستان تر منځ دا مهم سند د ناټو له راتلونکي غونډې څخه مخکې چې په شيکاگو کې ده لاسليک شي،دا په داسې حال کې ده چې امريکايي چارواکي وايي چې غواړي له افغانانو سره يو ځای عمليات تر سره کړي خو د شپې له خوا عمليات په افغانستان کې د هغو له مهمو ستراتيژيو څخه دي. امريکا همداراز وايي چې د افغانستان عدليه سيستم لا تر اوسه پورې د دې توان نه لري چې د زندانيانو کنترول په خپل لاس کې واخلی،د افغانستان د چارويو کارپوه يونس فکور، وايي چې د ستراتيژيک سند د نه لاسليکدو تر شا اصلي لاملونه د شپې له خوا عمليات او په افغانستان کې د بهرنيو زندانونو شتون نه دئ. هغه زياتوي چې د دې موضوع تر «شاه لويي لوبې» رواني دي،د يونس فکور په خبره ولسمشر کرزی غواړي چې د ستراتيژيک سند په لاسليکولو کې د ځنډ په راوستلو سره له متحده ايالاتو څخه امتيازات تر لاسه کړي. فکور وايي،کرزی علاقمندي لري چې په قدرت کې پاته شي. دی د ستراتيژيک تړون له ځنډولو سره غواړي تر ۲۰۱۴ کال وروسته هم په واک کې پاته شي،د هغه په خبره کرزی له پيل څخه د بارک اوباما له اداري سره ښې اړيکې نه لري او له همدې کبله غواړي چې په امريکا کې د ټاکنو پر وخت ولسمشر اوباما ته د افغانستان د سياست په برخه کې ستونزې رامنځ ته کړي. د فکور په نظر ښايي کرزی دې ته ليواله وي جمهوري غوښتونکي يو ځل بيا واک ته ورسيږي.

د اوباما اداره غواړي چې په شيکاگو کې د ناټو له راتلونکې غونډې مخکې دغه تړون لاسليک شي،د افغانستان د ولسمشر وياند د افغانستان او امريکا تر منځ د ستراتيژيک سند لاسليکدل د دواړو هيوادونو په گټه بولي او وايي چې د افغانستان حکومت دنده لري چې د لويې جرگې له خوا د ټاکل شوو شرايطو په پام کې نيولو سره دغه سند ژر لاسليک


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کړي،دتيرى يکشنبې په ورځ د امريکا د کانگريس يوه پلاوي افغانستان ته سفر وکړ. د دغه پلاوي مشرئ امريکايي بانفوذه سناتور جان مکن پر غاړه درلوده. د دغه پلاوي د سفر اصلي موضوع د افغانستان او امريکا تر منځ د ستراتيژيک سند لاسيکول وو. د امريکا متحده ايالات غواړي چې دغه سند په شيکاگو کې د ناټو له راتلونکې غونډې مخکې چې د مې په مياشتې که ده لاسليک کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ